AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۰۱/۲۰

# زما خبرې واورئ!



د دغه ستر انسان په اړه مې لوستي وو:
...يوې خوارې سيمې ته له رسېدو سره خلک پرې راټول شول، په لاسونو کې يې د ګلونو ګېډۍ وې، پاچاخان ورته وويل:
«مننه، زما په غاړه کې ګلان مه اچوئ، زما خبرې واورئ، که ستاسو په ګټه وې، عمل پرې وکړئ او ځانونه له خوارې وباسئ!»
نن يې تلين ورځ ده، يوه ورځ به يې زوورځ وي. ښه خبره ده، چې ياد يې کړو او درناوی يې وشي، خو د هغه اروا به هله خوښ وي، چې خبرې يې ولولو، په ارمان يې ځان پوه کړو او په غوښتنو يې عمل وکړو.
پاچاخان ويل:
ــ سره يو شئ!
ــ پوهنه زده کړئ!
ــ ښځې بشپړې انساناني وګڼئ او زدکړو ته يې پرېږدئ!
ــ اسلام د مينې او ورورګلوئ دين معرفي کړئ!
ــ يو بل مه وژنئ!
-خپله ژبه، خپل هويت او خپل تاريخ مه هېروئ...
پاچاخان ويل:
ــ خدای زموږ خدمت ته اړ نه دی، د خلکو خدمت د خدای خدمت دی.
موږ و تاسو يې چې نن ـ همدا يوه ورځ ـ ستاينې کوو او په ښو نومونو يې يادوو، څومره مو د هغه پر سپارښتنو عمل کړی دی؟
دا ولې له ځانه نه پوښتو؟
ولې؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ